# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نيټ د دي کتاب سره ډيره خواري کړې ده او په ډير عاجزانه طور ئي تاسو ته دَ مطالعي په غرض ډالۍ کوی د دي کتاب بي اجازت نقل کول ، چاپ کول يا زمونږ نسبت تري لري کول نه صرف دا چي اخلاقی جرم دے بلکي ډير سخت منع دی

پښتونستان
پښتو ډاټ نيټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited
without written permission of Pukhto.Net

Pukhto.Net

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حقوق په حق د مصنف محفوظ دي


د کتاب نوم ——— دار او دلدار

د لیکوال نوم ——— اجمل منصور

کتابت ——— محمد رسول پښتو اکیډمي

سرپاڼه ——— ذوالفقار علي بهټو (پرنسپل) د گو سهره

شمیر ——— پنځه سوه

د چاپ کال ——— نولس سوه اته نوي

قیمت ——— ۳۰، روپۍ

خرونکي

کالج بک ډپو تورچه (صوابه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه

لیاقت تصور، صادق حسین صادق، امان الله راحي، شعیب ساکن،
جهان زیب سهیل - آصف خان خلیل، محمد اشفاق اشفاق، عباس
هوتي، مامون رشید رشید، پروفیسر عارف خټک او ابن یاریوسفزي.
دا هغه ښاغلي دي چې زه یې دې کتاب چاپ کولو ته ور وپارولم زما حوصله
یې یو په دوه کړه.

عطاء الرحمن زهیر - ابن یاریوسفزي

ذوالفقار علي دوسهره او سید افضال شاه (سادات گرافکس لاهور) چې زما د دې کتاب سرپاڼه
یې هم جوړه کړې ده دې ښاغلو ماسره په دې کتاب کښې هم قدم مرسته
کړې ده.

ګران مشر نورالبشر نوید او ښاغلي همیش خلیل دي دواړو زما په
دې کتاب څو کښي لیکلې دي - زه د دې پورته ذکر شوو ملګرو او مشرانو
سره د سید قیوم - افتخار احمد (کالج بک ډپو توپي)
د توتو غرو هم ډېره، ډېره مننه کوم چې زما حوصلې یې اوچتې کړې.

اجمل منصور

شهیدان (توپه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منصور - دار او دلدار

د پښتو شاعرۍ کښې بعضې زاړه اصطلاحات د نوؤ حالاتو او واقعاتو په حواله دومره په تکرار سره بیانیږي چې هر څوک د غه اصطلاحات یا واقعیات زاړه دي خو د نوي دور شاعرۍ په داسې انداز بیان کړي چې لوستونکي له خوند ورکړي - په دغه کښې منصور او دار په پښتو شاعرۍ کښې د حالاتو د قد غنونو د نفي کولو له پاره په شدت سره بیانیږي -

زمونږ د نوي دور یو ماشوم شاعر اجمل منصور خو په مجموعي توګه د خپلې شاعرۍ علامت هم دار او دلدار ګرځولے دے. او د غني خان د خلې دې خطاب سره ئې ښځې انصاف کړے دے. اجمل له د منصور خطاب غني خان ورکړے دے - لکه چې هغه ورته ښځې د خپل دې شعر په آئینه کښې کتلي دي -

منصور د څه خو په دار او ختې
چې د آشنا راز دې څرو له يو زړه

اجمل منصور په پښتو شاعرۍ کښې د دار او دلدار استعمال د علامت په طور کړے دے او هغه تو له شاعري مجموعي طور په دغه خیال د نګینه ده - زړه ځاني طور د اجمل منصور د لږ عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعرۍ په حقله دا په دعوه سره وایم چې دا ماشوم د حالاتو جبر د وخت نه وړاندې ذهني او شعوري طور بالغ کړے دے چې هغه په دا سې ماشوم ژوند کښې دومره ژور فکرلري - حالانکې دا جمل منصور د عمر هلکان فقط د کرکټ یا نورو لوبو شوق لري خو دا نباغلے د پښتو او پښتون وظیفه کوي یو ویښ احساس رسانظر او پښتون شعور لري - زه د ده شاعرۍ ته الهام وایم ځکه چې په دا سې عمر کښې دا سې آمد ته نور څه و نیلے شي ؟ زه د روایت مطابق د هغه شاعرۍ ته دعا نه کوم د هغه ژوند ته دعا گویم چې خدائے دِ ده ژوند ورکړي نو د برخه به روښانه کړي -

نورالبشر نوید

افغان کالونی پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "ذوالجلال"

قبلو نکے د هر سوال دے ذوالجلال
بل څوک نهٔ دي ذوالجلال دے ذوالجلال

نهٔ د چا نه دے پیدا نهٔ ترې پیدا دي
نهٔ بدلیږي په یو حال دے ذوالجلال
نهٔ په چا باندې ئې کار نهٔ ئې غرض شته
نهٔ سجدو ته مو لېوال دے ذوالجلال
هغه خلق په ژوندوني جنتیان دي
چې د چانه هم خوشحال دے ذوالجلال

د منصور د دار په سر به دا اوازوي
سیال ئې نشته دے بې سیال دے ذوالجلال

ماښام مال
نیل چوپال
۱۲-۳-۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "د نوي کال سحره"

په پښتونکښې به غیرت، مینه او توان راولي
د رقیب خېلو په محلت کښې به خزان راولي

په ژبه گونګ دې شمه بل که درنه سوال اوکړمه
د نوي کال سحره ماله به جانان راولې

۳۱-۱۲-۹۲

ما څېګر مال

خېل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مينې په محفل کښې چې داخل شوم
ايله اوس په انسانانو کښې شامل شوم

دا چې مخې اول ماته په ولاړه وو
نن يې زه دَر کښې ولاړ يمه سائل شوم

ستا د مينې نه به زه څنګه لاس واخلم
ستا وفا وه چې د نيا سره واصل شوم

اوس د جانان کيله اوکړمه جانانه
زه د خپل ارمان په خپله چې قاتل شوم

د منصور په يارانې د ې يقين اوشو
د دين په وخت د ې جانان ته نازل شوم

۳ - ۱ - ۹۲
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظاهره که په غم باندې غمجن زماجانان دے
والله چې بې وفا او دروغژن زماجانان دے

پرون مسکے مسکے وو د رقیب په خوا کښې ناست وو
نن خوا، خوا ته مې کښې جوړ پردمن زماجانان دے

د وخت قافلو راشئ یو تپوس درنه کوؤمه
د ستاسو خیمه منسوب دے که خیمن زماجانان دے

ښیل عقل پرې تمام کړم په مطلب یې پوهه نه شم
او ستاسو نظریه کښې لا یې فن زماجانان دے

منصوره چې یې کله په غزل کښې نامه واخلم
په دې خبره مانه گیله من زماجانان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه یار رضا شه نه زړه صبرېږي
هر یو ارمان مې دلته قتلېږي

رولېدل دې ډېر مې په میکده کښې
چې په لمن کې مونځونه کېږي

دا کوم انصاف دے وه ساقي جانه
څوک ورته ګوري او څوک مستېږي

په دې کښې هم لا ملګري وائي
زړګے کړه صبر چې هر څه کېږي

زړګے مې روڅوي غمونه زور کړي
د نجیب مرګ چې ماته یادېږي

زما په خیالي جوړ لبونے شو
منصور یو کوټ کښې ځانله ګودېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ښکلی یار مې په نظر نهٔ راځي
دُنیا دې واخله چې دلبر نهٔ راځي

ډېر صبر او مې کړو په صبر نهٔ شوه
روژه مې تېره کړه اختر نهٔ راځي

پرون وعده ئې د ماځیگر کړې وه
تیرې خورې شوې ماځیگر نهٔ راځي

ساقي وبُل داته چې د نشه راشه
د میخانې نه څوک بهر نهٔ راځي

په زړهٔ غمگین یم بې وصاله داسې
لکه چې شپې پسې سحر نهٔ راځي

د جانان غم لیونے کړمه منصوره
په ځان د دروغو مې باور نهٔ راځي

کړي جنتونه به بدل په شونډو
مُلائکهٔ خُله کښېنوه یوځل په شونډو

رشید[1] به مچ مجروح[2] په سترګو ټیکي
هیچا اوسنهٔ بیسکهٔ تکل په شونډو
په تخیل کښې لیونتوب راواخلي
کله چې رامې شي غزل په شونډو
غاصب مې څکه ګنهګار سولي
مانه دے پاتې شیش محل په شونډو
پرون یې ماته وسپل څښل ګناه ده
نن یې شراب څښله بهېدل په شونډو
غونې زیګ شي په ما وریښم
اجمل چې خُله بدم د اجمل په شونډو

۱- مامون رشید رشید ۲- مشتاق مجروح یوسفزے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منت د ساقي جام دے
ميخانې ته مې سلام دے

موږ د ژوند په ژرنده دل يُو
کۀ کوږ کړان دے خو ناکام دے
دا چې يو سبل پسې ژاړو
دا پښتو ده دا اسلام دے
په ممبر باندې چې ناست دے
هم ساقي دے هم امام دے
دا چې لاس کښې ئې جام دې
بوډا شوے جوړ خيام دے
اريانه چوک کښې زوړند دے
په منصور هاغه الزام دے

يار مقطع نه مخکښې ووې
د پاګل منصور کلام دے

د ښکلي په لټون کښې مې خیالات خواره واره شول
زړول که لږ شان کم وو خو اوس زیات خواره واره شول

جانانه ستا دولت، زما غربت او د عشق په لار کښې
شي ګرانه به که د غه تضادات خواره واره شول
وطنه وایه څنګ به مې له تا نه زړګی بېل شي
منکرې چې مې ټول په امارات خواره واره شول
ما وې یار نه به یو، یو سوال کوم چې سبا شي
بېګا چې په ماغزو کښې مې سوالات خواره واره شول
ما بڼې مې اباسین ته په سلګو کښې دا سې وویل
تنها شوم چې ټول ښکلي په سوات خواره واره شول

جانان به ئې هم اورې هم به ئې وائي په سرو شونډو
منصوره که نرۍ کښې دې ابیات خواره واره شول

پښته ۹۳-۳-۲۴

خپل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانه چې څان ستا په جمال کښې ورک شي
لکه دستوري نور هلال کښې ورک شي

تسبې د لاسونه چې او غورځيږي
زړه د مستو حورو خيال کښې ورک شي
زما زړګے څه لېونے غونډې دے
يار سره هم په قيل وقال کښې ورک شي
يار مې رقيب ته وئې پروا مه کوه
دا لېونے به پشکال کښې ورک شي
ستا د جلوې د ليدو تاب نۀ لري
کنه مئين دې په وصال کښې ورک شي

د چا څنګل وربل کښې نۀ دوکيږي
منصوره د غونډې زنې خال کښې ورک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا زلفې لوڅ يول هم فنکارې ده
د چا شونډې پسکول هم فنکارې ده

د حسينو ژړول هم فنکارې ده
د حسينو خندول هم فنکارې ده
تش دا نه چې ارمان اووژني فنکار شي
د اخوبونه تښتول هم فنکارې ده

ګوانه دا ګورې د هر چا ريزده نه دې
بلا زړونه دړدول هم فنکارې ده
يا رب ګاه خندا کښې ووئيل منصوره
ستا په شان غزل ليکل هم فنکارې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه د کلي ما ځيګر پيا تې شو
هغه منګي هغه ګودر پيا تې شو

خنګه منزل ته ذر ور ورسيږم
چې نيمه لاره کښې د سبر پيا تې شو
آخر پښتون يم ميلمه خنګه وشرم
د يار غم کور کښې د ځيګر پيا تې شو
اشنا زما د سره کوز نه کړه لو
د عشق پيټي مې په سر پيا تې شو
هسې نه خلق پرې خبر شي سبا
ستا د کور خوا کښې مې خادر پيا تې شو

پيا ګل منصور په جانان هرڅه بائله
تش د لفظونو جادوګر پيا تې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورتلو یم خو درا تلو نهٔ یمه
ځکه د یار چم ته د تلو نهٔ یمه

اختره پام کوره په ما رانهٔ شي
لا د اغیارو د سیالو نهٔ یمه

ستړگو مي ستړگو نه شراب څښلي دي
ساقي عادت دي د پیالو نهٔ یمه

څله مي سورے اوس په گټو اولي
اوس دي د ذرهٔ نه دوتلو نهٔ یمه

منصوره ما باندې ازمېښت مهٔ کوه
ستا په شان دار ته د ختلو نهٔ یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس که د وفا سند رې مه وایا
چپ شه بې وفا سند رې مه وایا

یو ځل مې د زړه نه روبا سلے دے
بیرته د اشنا سند رې مه وایا

دا مې سرمایه ده د دې سترګي ژوند
څه وایې چې دا سند رې مه وایه

غلے شه ساه واخله په تول کلي کښې
جوړه شوه غوغا سند رې مه وایا

ځله مې ماته به زړه چاړې د به ده
یاد وې چې زما سند رې مه وایا

نن ګل مخي دا سې وې منصوره چې
تا کړمه رسوا سند رې مه وایا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته زړګے د سترګو رپ کښې ورک شو
دا لېونے د سترګو رپ کښې ورک شو

زما د کلي ښکلا پاتې نهٔ شوه
ګودر منګے د سترګو رپ کښې ورک شو
چې زما بربتو سره رونغښتلو
ستا مېخکے د سترګو رپ کښې ورک شو
بېګاه چې ما پرېړنه خُله کښېښودله
سُورا تنګے د سترګو رپ کښې ورک شو
يار مې لا ګُل زلفو کښې اېښے نهٔ وو
چې پسرلے د سترګو رپ کښې ورک شو

چې ما منصور د ځانه خوښ ګڼهلو
هغه لالے د سترګو رپ کښې ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې دې مه چیچه غاښونو کښې پاګل به مې کړې
سپوږمۍ مخ پټ نکړې لاسونو کښې پاګل به مې کړې

کله زغمې شم ستاخندا د رقیبانو سره
بیا راله مه راځه خوبونو کښې پاګل به مې کړې
راته په خط کښې د اغیارو ذکر څه له کوې
پردي وطن پردو ښارونو کښې پاګل به مې کړې
دومره عادت دې کړم جانانه چې کمې رونه کړې
په خپل ستم خپلو ظلمونو کښې پاګل به مې کړې
زړګیه صبر دې منم خو دا زما واوره چې
ګلونه هېر نه کړې دردونو کښې پاګل به مې کړې

ساقي منصور یمه شراب غواړم خمار غواړمه
راته روبه ماچوؤ جامونو کښې پاګل به مې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظم

# "ګل"

ته مې د زړګي ګل يې
ته مې د پټکي ګل يې
مانه ورکېدے نه شې
ته د پسرلي ګل يې

ستا وُنه چنار چنار
ستا ژوندون خُمار خُمار
ستا خندا بهار بهار
زړه زما بيمار بيمار

ته د ليوني ارمان
ته د ليوني ګل يې

خوند دې زلميتوب کوي
خوند مې ليونتوب کوي
زړه په زلفو خوب کوي
سترګې مُسکيتوب کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې دې غوټۍ غوټۍ
یاره ګلابي ګل یې

سرې شونډې انارلرې
ګل ورین رخسار لرې
تور اوربل تار تار لرې
غاړې باندې هار لرې

ما منصور دهوکه نه کړې
وه ګله واقعي ګل یې
مانه ورکېږې نه شې
ته د پسرلي ګل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پچې مې په ښه نهٔ راځي
نوم بې په خُله نهٔ راځي

ما درته ووې کنه
مړه هغه نهٔ راځي
هغه معلوم دے ما ته
په نيمه شپه نهٔ راځي
مونږ ده قتل ساندې وايو
مونږ له تپه نهٔ راځي
ياره کهٔ هر څهٔ ووے
ماله غصه نهٔ راځي
پښې به مې ماتې شي خو
ستا په کوڅه نهٔ راځي

منصوره ستا په وړاندې
خدا ښکو ګيله نهٔ راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساه

چې دې وینم ویلې کېږم چې دې نهٔ وینم سوزېږم
زهٔ ترکومې یه سوزېږم زهٔ ترڅو به ویلې کېږم

زهٔ د ژوند او مرګ په داسې بریډ ولاړ یمه زړګیه
که ساه اخلمه قتلېږم، که ساه نه اخلمه مرګېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "حسین جنت"

نن بۍ هر یو چوپال سوزي
نن بۍ هر نجے ژړېږي
هره پېغله بۍ سر توره
د سر تاج په کټ غورځېږي
د مور پلار په مخ کښې یاره
زوے په سرو وینو لمبېږي
چې د کوره وتې نۀ وه
هغه پېغله سرتورېږي
پښتون ورک پښتون تالاشۀ
د نجیب سنګر ورانېږي
خدایه ولې، خدایه ولې
په موږ دا ظلمونه کېږي
د دوزخ په سرو لمبو کښې
دا حسین جنت سوزېږي
هر ځائے چغې دي سورې دي
زما هر چوپال ورانېږي

زما ګُل د وطن شو خاورې

ګولۍ هاغسې چلېږي

زلمي سره ښار سي کښي

خپل وطن ته واده کېږي

نهٔ خو ډول شته نهٔ سُرنا شته

نهٔ زما پېغلې ګډېږي

د رقيب په ساز شو نو

پښتون هر ځای تالا کېږي

نو خدايه ولې، خدايه ولې

په موږ د ظلمونه کېږي

د دوزخ په سرو لمبو کښې

د حسين جنت سوزېږي

پېښور ۹۷ - ۳ - ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونو د ستم په لاس وهلي يو موږ دواړه
حسينو په دړدمن زړهٔ دېدولي يو موږ دواړه

هر چا زموږ په غم د خو شحالۍ تمبل وهلے
د هر چا په خفګان تل ژړېدلي يو موږ دواړه

رېبار زو ما د يار د کور چنه پرېښودې نهٔ ده
رقيب کهٔ د جانان چم کښې کنځلي يو موږ دواړه

زما ځکښې جانان ته د جانان په ځکښې ما ته
کنځل مهٔ کړه يو بل ته نازولي يو موږ دواړه

تش نوم سو يو شان نهٔ دے په کردار کښې هم يو شان يو
منصوره يار له دربانده ختلي يو موږ دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقو شراب څښل تا توبې اوویستې
څکه ساقي د میکدې اوویستې

زه دې خبر نه کړم وا لوتلې
څنګه په چل چلکښې دې پښې اوویستې

شیخ چې د ترکو په محفل ورګډ شه
روګوره غاړې نه یې تسبې اوویستې

غربته روک شې دلاسه هغې
راته دلاسونه کړې اوویستې

ې
تا به منصور غوندې په دار اوځړې
که دې جانان نعرې اوویستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماڼۍ

وه د کالام غبږه کېږي لوۍ شوي يه
خوب وينم کهٔ تهٔ وې چې ماڼۍ ته ځو

جيب کېږي يو پيسه درسره نشته دے
هسې تش په خُله وې چې ماڼۍ ته ځو

زهٔ درسره لاړ بانئي قدم نا خلم
څنګه تهٔ لا ځهٔ وې چې ماڼۍ ته ځو

څنګه د یخنۍ نه ګوګله شوے ئې
بيا يه راته نهٔ وې چې ماڼۍ ته ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا وشړل چې په سینه کښې مې ګوګل دے
دا ګوګل نه قتل ګاه ده سور مقتل دے

ته پرون سیرې ګریوان چې چم ته راغلے
چا وشړل چې ستا محبوب چا وې پاګل دے
پښې چې سترې شوې نو زړه ته مې وشړل چې
ستا منزل ته زړه لا نور څومره سزل دے
ستا ښائست خو ورځ تر ورځه سیوا کیږي
زما عشق خو د غربت په ژرنده دل دے
زلمیتوب ته د سرو شونډو ارمان پرېږده
دې ارمان مې ایله اوس اخستے پل دے
دا سې کس سره په لار باندې روان یم
چې د حق غوښتنه کړمه وائي غل دے
د غزل د پرمختګ د عوېدار څوک دي
د غزل ژوندون په چا باندې غزل دے
د منصور غوندې په دار څوک زوړند نه شول
د ښکوا نه اوس د عشق قانون بدل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبر یم ساده یم کلیوال یم
ته د شیش محل زه د چوپال یم

ټولو ته یوشان ټول راته یوشان دي
ستوری یم نمر یم هلال یم
اوسه پوري چل د وتو سنه راځي
زړه چي اخته کړې په جنجال یم
اوس مي ماتې او سنله پوهه شوم
یاره باکمال یې بې کمال یم
پاڼې مي غیرت د تاریخ ډکې کړې
زه یم پښتون یم ننګیال یم
سر بېر، ګوړوان سیري پښې ابلي پښې
ستا مینه کښي داسي په بد حال یم

اوکړه ما منصور باندي زبېښت ګله
ستا د پاره دار باندي خوشحال یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی کال دې مبارک شه

اوس په تلو کښې دا غورځېږي
قدم اخلي ورته وېښېږي!
د جانان وېښته سپینېږي
کال په کال چې بوډا کېږي

زه به خندا ورته وویم
نوی کال دې مبارک شه

د ګوګل ماشوم ماڼۍ
د بچي وسه دا خوارانې
چې دوږه پېسي ژړېږي
چې یې خوله نه را تولېږي

زه به خندا ورته وویم
نوی کال دې مبارک شه

چې پالش پالش نعرې کړي
ماله زړه زړې زړې کړي
په مخ او سپکې یې بهېږي
د چا زړه یې نه خوږېږي

زه به خندا ورته وویم
نوی کال دې مبارک شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نرۍ نرۍ چاچۍ ږي
دا وړې وړې پاڅۍ ږي
د یخنۍ نه چې درپېږي
په جامو کښې نهٔ پټېږي

زهٔ به څنګه ورته ووېم
نوې کال دې مبارک شه

دا چې ناست دے په بازار کښې
تولې خبرې په لویه لار کښې
څوک د دهٔ په حال خبرېږي
چې په دهٔ به څهٔ تېرېږي

زهٔ به څنګه ورته ووېم
نوې کال دې مبارک شه

نوې کال چې را روان دے
دې کښې مانه یار روان دے
یار چې مانه جدا کېږي
ورپسې مې زړهٔ خوږېږي

زهٔ به څنګه ورته ووېم
نوې کال دې مبارک شه

د منصور زړګے پاګل دے
د چا مینه کښې ګهائل دے
دم درود ېې نهٔ چلېږي
چې په یار پسې دردېږي

زهٔ به څنګه ورته ووېم
نوې کال دې مبارک شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مې زړګي ته رانزدې جانان دے
په شانتې سپین د فالودې جانان دے

زړګیه بس که دومره مه ځوږېږه
غبږ کښې د لبږې شان مودې جانان دے

چې دې د زړه د رنځ طبیب نه شولو
زما په خیالې بې فائدې جانان دے

پرون یې ماته وښل را به شمه
نن شوه معلومه بې وعدې جانان دے

منصوره داسې ساقي جانان ووښل!
مُلا د خوارې عقیدې جانان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کۀ مستي مې راوستلې شي بهار کښې
د زړګي وینې به اوښولم ګلزار کښې

ستمګره یاره کله به لا دروځې!
تور د سترګو مې سپینې دي انتظار کښې

شهزادګۍ د شپېره غونډ په ما خبر کړې
د یوسف پشان به حال شوم کړمار کښې

کۀ زمونږ کلي کښې داسې محل نشته
چا سپیاکې دي تېلې ستاسو ښار کښې

ما ته یو دي لیونے یمه منصور یم
فرق نۀ کوم په دار او په دلدار کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپ به شم زړګیه اوس به څه وایم
چاچاته حالونه به د زړه وایم

بیا جوړې رقیبو لمسولې دې
یار باندې مې بد سکې که ښه وایم

زه چې ستا غمونو لار کښې پرېښودم
اوس به کله چاته پښتانه وایم

سرې وینې روانې مې د ژبې شي
چاته چې داستان د بېلتانه وایم

څوک چې پردې ژبه کښې خبرې کړي
زه منصور هغو خلقوته مړه وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتا په اولیکم رنګین غوندې غزل سپرلیه
زموږ په سیمه باندې بیا راشه یو ځل سپرلیه

ستا په ورتګ باندې محفل چې سپېره شوی وُ تل
راشه روښانه که نن بیا هغه محفل سپرلیه

که وي ساقي، که جام، جانان وي بې لتا سپرلیه
والله چې نه کوي قرار پکښې ګوګل سپرلیه

په کوم محل کمو ماڼو کښې چې ستا هڅانه لګي
خاورې دي شي هغه ماڼۍ هغه محل سپرلیه

پرون رباب چې راله ستا د راتلو زېرې راکړو
لایم تر روسه په انتظار باندې رحمل سپرلیه

د آزادۍ په ورځ نیټه ۹۳-۸-۱۹ سحر مال خیل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هله پوۀ به د رقيب په چل او ول شي
چې داخل زما جانانه په مقتل شي

تا ته هله به د بل احوال معلوم شي
چې سورے د ننه په کوګل شي

اے صابره ته به څنګه صبر اوکړې
چې په ټوټو، ټوټو کښې يې د زړۀ غل شي

ملا جانه تا نه هم به جنت هېر شي
کۀ اوده چې ته د ښکلي په څنګل شي

تۀ اجمل پوره اجمل نۀ يې اجمله
تۀ اجمل به هله شې چې سم اجمل شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ منصور په زړهٔ ملال يمه د ترکو
هم په طمع د وصال يمه د ترکو

عاشقي کښې به څوک کوم يو سوال وکړي
زهٔ سر سکے د هر سوال يمه د ترکو

دُنيـاوي کار سانه نهٔ کيږي يارانو
چې ا ښتے په جنجال يمه د ترکو

چې په مخ يې د ويښتو خطونه راشي
ډير خنده په د غمي حال يمه د ترکو

دا چې ما رحمل د ځان په خوا کښې کښيني
محتاجے او کنګال يمه د ترکو

زړګی غواړي لال غوټۍ مې وکښې او وسپړل
نور نه کېږي زمانه ربادوکښې او وسپړل

پروا مه کړه زړګیه که دا سخته پتا راغله
حسرت مې دے دیدار تورو کمڅو [illegible] چې او وسپړل
روکېږه مُلاجانه نور دې نهٔ ورد وعظونه
د یار سره کوُم به مېکدو کښې وسپړل
لږ ترس په ما اوکړه غنم رنګیه جانانه
ترڅو به زهٔ کوُم ستا په کوڅو کښې او وسپړل
مظلوم باندې چې ظلم ته غیرت وائي ملګرو
څُم نُور نهٔ کوُم دلته پښتنو کښې او وسپړل

منصوره لیونیه ځان په یار باندې قربان کړه
کهٔ غواړې د منصور په شان زړګوټه او وسپړل

یادګیرنه: دا غزل ما دټي وي پروډیوسر مسعود شاه صیب
طرحه: اے عشقه زړهٔ مې خوښ کړل په سُرمو کښې او وسپړل په طرحه
لیکلے دو - نیټه ۱۹۹۴ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کښې ي دا سې بل چې ځان له يار کړم
ستا نه نهٔ شم صبر به لے ځان به خوار کړم

دا زما کم عقلتوب نهٔ دے نور څهٔ دي
ښکلے يار مې تل تېښ باسي زهٔ اعتبار کړم
رنګ مې زېړ وي ښېښې مې رپي په بد حال يم
ستا په ورانه کل مخيه چې ګفتار کړم
چې يو ځل وائي زما نامه وا غښلي
لږ نے يمه بيا هم دلدار دلدار کړم
پرون تهٔ هم زما مل وې ماسره وې
فتوىٰ کړه نن دي ولې ګنهګار کړم

منصور دې باندې خوشحال يم تهٔ کرم نهٔ يې
چې نړى کښې دې د ښکلو توبه کار کړم !

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه پیکه غونده کښې شپه ده
څو یار خوا کښې دے خوږه ده

ستا د زړه نه به اوسه ځې
زما مینه پښتنه ده !!
ځم ورځم د یوې بلومه
ستا فرقت کښې شوګیره ده
زما خوله کښې د یار نوم دے
رود شپنګ په خوله توبه ده
زندګي زمونږه څه ده
یو غزل دے یو ټپه ده

یار دې راسه کړلو ربه
د منصور دغه ګیله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما زړهٔ زما ځیګره څهٔ شوې
زما د زړهٔ نه ناخبره څهٔ شوې

زهٔ خو ژوندے یم ستاد مینې په نوم
د پیاکې مینې نه منکره څهٔ شوې
په هغې لوږه ورځ به اورکښې سوزې
وه د موخکو نو سوداګره څهٔ شوې
صبا به څه ځائے کښې دا چغې اودم
اخر د لفظونو جادوګره څهٔ شوې
ښشته دے پیغلې نهٔ منګې په ترخ کښې
زما دخوار کلې ګودره څهٔ شوې

چې دې زما په زړګي لوبې کړلې
وائی منصور چې ستمګره څهٔ شوې

میاشتنی لیکوال
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به يا څه کوم د روم و شام ښکلي
خوا کښې چې مې وي د بتګرام ښکلي

چې موتبره چا سره ياري نه کړي
دا سي راموخته شول دا سلام ښکلي

ما سره که تا ياري پاللې وه
او س به په دنيا نه وو بدنام ښکلي

سو بنخو په کنځلو کښې هم نه يادي
نور خو کوي هر چا ته سلام ښکلي

دا چې وعده او کړي بيا ئې مات کړي
دا منصوره دے زما د قام ښکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "زما ژوند"

زمانه نور زما د محبت پښتنه مهٔ کړئ
پتنګ په شان مې سوزېدو کښې مې ژوندون دے

رقيبه کهٔ هر څهٔ اوکړې صبر ولې مې ترې نهٔ شي
ددې کوڅو ملنګ يم دې کوڅو کښې مې ژوندون دے

زما د لېونتوب به درته څهٔ اوويم جانانه
نهٔ مړو کښې حساب يم نهٔ ژوندو کښې مې ژوندون دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ ئې شم چې ورکولے هغه شے غواړي
مانه مې زړګے د چا زړګے غواړي

اوس به ښځهٔ په نره مزدورې کوم
ګل چې اوسېدو له کورګے غواړي
د ستا په دولت ستا په محل نهٔ ده
مينه صفا زړهٔ صفا تن دے غواړي
وينه د زړګي دې پرېنه اوشيندې
څوک چې په خپل کلي کښې سپرلے غواړي
څنګ به يارانه ورسره اوپالم
هر ماښام چې خوله کښې رنګے غواړي
سل ځله مې اوباسهٔ د زړهٔ نه خو
نهٔ صبرېږي بيا هغه سړے غواړي

ژوند ئې ورله ټول خاورې ايرې کړلو
اوګوره منصور ته بيا هغے غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په یاری کښې بلا زړونو لمبې واخستلې
د بلا خلقو ایمانونو لمبې واخستلې

ځان ته په کمه خوله مالیار وایي زه یوه نه شوم
چې دې ګلزار کښې سروګلونو لمبې واخستلې
ته خپل محل خپلې ماڼۍ کښې څنګ خوشحاله اوسې
زمونږ د خوارو ګریوانونو لمبې واخستلې
په تاسو هیڅ نه کړي اثر د ښار بې درده خلقه
زما کابل کښې څو پیالونو لمبې واخستلې
مخ په نقاب کښې پټوه نا ترسه ظلم مه کړه
ستا په لیدو څو نظرونو لمبې واخستلې
ستا د وصال په طمعه طمعه په ماڅه روژه نه شول
په ژوبل زړه کښې پرهرونو لمبې واخستلې
چرته به ناستې وي قیصې د درخانۍ به کوي
کوڅې برقي دي تندرونو لمبې واخستلې

عجیبه کار دی چې په تا هیڅ اثر نه کوي
د منصور آه سره دارونو لمبې واخستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره ساده توب کښې دې هوښيار کړمه
ګلهٔ! تا د ښکلو توبه ګار کړمه

راشه چې نن دا خبره پېښه کړو
زهٔ به دې ترکمې انتظار کړمه
ما ته جوړه د پاسه پاګل نشته دے
ستل په غنم رنګو چې اعتبار کړمه
کمه بې رُخي ئې درته اوستايُم
کم، کم ستمونه به ئې شمار کړمه

ما ته ئې خپل ګناه په ګوته نهٔ کړلو
زهٔ منصور ئې بې ګناه په دار کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیونے یم ما پرې کړے اعتماد دے
خبر نهٔ وم چې بُلبُل نهٔ دے صیاد دے

بې له تانه سکه کور بغیر د مُوره
ستا په سرخوشې د زړهٔ چو پال آباد دے
زهٔ چې ستا کوځې ته راشم په قرار شي
ویرژړلے زړهٔ مې هر ځائے کښې ناښاد دے
چې دا نهٔ وي پښتو څهٔ پښتانهٔ څهٔ کا
پښتنو کښې نو د کار شے اتحاد دے
هیڅ اثر پرې زما آه و فغان نهٔ کړي
زما ځکښې زما چیل اشنا شیداد دے

وه رېباره نن پا کل منصور ته وایه
ستا د لاسه مې ژوندون تباه برباد دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر به شي په ځيلو کړو پښېماني قاتلانې
ترڅو به ارمان وژني قاتلانې، قاتلانې

نازونه قاتلان او ادا گانې قاتلانې
ژوند ے ارمان مې وژني خنداګانې قاتلانې

منت درته کوم ګورے له مانه لرې نهٔ شې
زړګے مې خونبوې ستا سو پشانې قاتلانې

اثر پرېسته ګلا به زما آه فغان نهٔ کړي
بوځي مې قتل ګاه ته بې ايمانې قاتلانې

منصور د دار په سر ځغي وهي او وايي واڼي
ددې نه سپوا نشته سزاګانې قاتلانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادان زړګي مې ستا دیدار غواړي
بیا سوزېږي په سور انګار غواړي

ملا صیب شا به دم درود روښایه
نیسل د تورو زلفو مار غواړي

سترګې یو څه او زړګی بل څه وائي
زړګی قرار سترګې خمار غواړي

په غوښتو نه په رخستو به کېږي
څوک چې په خپل کور کښې اختیار غواړي

لږ ورته او ګورئ رسۍ په غاړه
منصور د دار په سر دلدار غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزړهٔ په کور کښې مې لټولې ګله چرته کښې وې
ما دخپل درد سندرګوٹې ګله چرته کښې وې

ستا په سرواېه ما د کوم ازمېښت نه ټېښته کړې
دنیا مې نه تهٔ مې خپلولې ګله چرته کښې وې
ټیکه بنګړي پاېزېب مې وا چول وربل مې خور شو
ما ته راستولې وې هم زولې ګله چرته کښې وې
قسم د مینې په پاکېزه مقدسه نامه
ما په قدم، قدم یادولې ګله چرته کښې وې
زهٔ لیونے ووم د وفا په مطلب څهٔ پوهېدم
جامې مې ستا کوڅه کښې شلولې ګله چرته کښې وې

منصوره پرېښې دې دې خبرې راکړه ځواب
چې په ماڅې خاورې امبارولې ګله چرته کښې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې نهٔ دي درځي څواله غټې سړے دے
څوار زړګيه جوړې ستا خوښ شوے دے "دے"

د جانان مخ ګلستان برېتې ئې ازغي دي
د ګلاب په شان ئې بوېو اننګے دے

پښتون یاره د دې خبرې مهٔ کړه
وخت په منډه راننه زغلي ګرځندے دے

څهٔ کهٔ عمر ئې اوویا کلونه تېر شهٔ
لا څو فکر د بزمي بابا زلمے دے

زما بد ئې شي او څوا ته مې کېښېږي
دا منصور څو عجيبه شان لېونے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو بس کړئ د وفا سندرې خله وائ
دلته د مینې او ښکلا سندرې خله وائ

زه خوږه ستړې یم یارانو په قلار مې پرېږدئ
ماته د جام او د مینا سندرې خله وائ

په داسې رنځ باندې اخته یم چې طبیب جانان دې
د درد، پرهر او مسیحا سندرې خله وائ

رندانو نوش کړئ سر مې خوږ مازغه مې مه خوږوئ
خمار، خمار یم د اشنا سندرې خله وائ

زما په ژوند چې منصور نوم په تاسو ښه نه لګېد
زما په مرګ باندې زما سندرې خله وائ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنم رنګے دے که تور دے او که سپین دے
ما ته څه یو د یوسف په شان حسین دے

دا زموږ د باغ غوټۍ په فریب وژني
د مالیار لباس کښې راغے نو ګلچین دے
څڅه پرون نو باران لا روه کندې کړې
اے ربه بیا به نن راشي اسمان شین دے
خاورې ژوند کښې د مستۍ سندرې وایم
دا سبق راته ښودلے اباسین دے
ما پرون وټپل چې نوم به مې ترې هېر شي
لا تر اوسه ورته یاد دے یار زهین دے

د اشنا د خلې کنځل ته چرته رسي
که غزل د منصور څومره رنګین دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان په ستر شو د کوره بهرنهٔ را وځي
که د رقیبو د بېغوره بهرنهٔ را وځي!

ستا د واز پېغلې پېښې د ملنګۍ مهٔ کوه
روک شه رقیبه سپکه سپوره بهرنهٔ را وځي
د ښار مانېۍ د لوګو ډک بازار زمانه نګي
هغه د ښار د لوګو شوره بهرنهٔ را وځي
زما مثال لکه د مرۍ دے دیار مینه کښې
سرے په خپله د خپل کوره بهرنهٔ را وځي
دا یو ورېښتمه صدۍ څهٔ که دوه وېښتمه راشي
خو پښتنه ګورے سرتوره بهرنهٔ را وځي

ساقي وېل چې دا منصور راته پاګل ښکارېږي
په رضا څهٔ کوي په زوره بهرنهٔ را وځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم مې ارمانونه ستا کاته وژني
هم مې ستا قاتلې سترګې زړه وژني

خدایه خبر په روي باندې چا څه اوکړل
ګوره پښتنو ته پښتانه وژني
تاچې مې یادونه زړه کښې ووژل
کوم پښتون په کور مېلمانه وژني
تاکه د زړه راز ووې په دار شولې
مایه هم د یار په طرف تله وژني
تاته ګناه نشته دې پروا مه کړه
ما خو دا خپل زړه دا خپل مازغه وژني

څه کنه هغه خو انا الحق ووې
ما څه کړي ما منصور په څه وژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "سمن"

د انور سید چراغ لور

خدائ دې لویه کړه بلبلې
مور او پلار ته نازولې
د طارق په مینه مستې!
د بخښو د زړهٔ غندلې!
د بابا په څنګ کښې ته هم
فرښتو نه ښځې ښکلې

کاش که ستا په شانتې ګل هم
زما کور کښې اوسېدلے

اے روښې اے نازنینې!
اے سمن اے ګل رنګینې
ته په خپله ې ستا سینه
بیا جامې مهٔ اچوه سپینې
د بابې د زړهٔ قرار ې
د انور د بدن ویښې

کاش که ستا په شانتې ګل هم
زما کور کښې اوسېدلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښو تا ته خوشحالېږي

څراغ ستا نه څاپېرېږي
ګلان ستا په خوا کښې خاندي
سپرلے ستا حضور ته ګورېږي
اے ستمن د هر چا زړهٔ کښې

بس دا یو حسرت وسېږي

کاش کهٔ ستا پښانتې ګل هم
زما کور کښې اوسېدے
ته یو ګل یوه غوټۍ ئې

یو حسینه لونګۍ ئې

د حسینو نه حسینه

د رنګ کلي شهزادګۍ ئې

ستا خندا سره سپرلے شي

څهٔ عجیبه ښاپېرۍ ئې
کاش کهٔ ستا پښانتې ګل هم
زما کور کښې اوسېدے

اے زما د زړهٔ ملګرې

اے ستمن اے جادوګرې

ستا تصویر د مینې جوړ کهٔ

اے د مینې انځور ګرې

ستا منصور په تا قربان شه

اے رونړې اے جادوګرې

کاش کهٔ ستا پښانتې ګل هم

زما کور کښې اوسېدے

دي خوابږه خوابږه مي د قيصي خلق
څه رنګ دي لا ستا د ښارې خلق

تا چې مې ريبنې ريبنې ګريوان کنډه
وو په تماشه ټول د محلې خلق
ته چې ما سره په خنګ کښې اوډېږې
يم حيران په څه اخلي لمبې خلق
يو رقيب خونه دے چې به يوے شي
څنګ به يو هوم دې د کوڅې خلق
يو ارمان ئې دوي له پوره نه کړلو
ځله کړي خدايانو ته سجدې خلق
دا راته د حورونه خوابږه دي زيات
دا زما د کلي بې اسرې خلق

مرګ نه د منصور روستو به اوګوري
هر ځائے کښې ئے اوستائي نغمې خلق

وخت تېرېږي نه خپل کوږ کښي په ترخې خُلې
شي تمام جهان خوږ لې په خوږې خُلې

هر يو کس به ستا د ظلم مخ نيوے کړي
وه ظالمه ته به چا چاله تېرې خُلې
آه زړګيه تار ښتيا وي زه پياګل وم
چې د سوکه نه سمېږي داکړې خُلې
د انصاف طمع به څنګه تر بنه اوکړو
چاچې کړې زمونږ په وينو باندې سرې خُلې
زه د لادو بادو پړ بوتم زړه مست دے
نه هېرېږي مې سرې شونډې او دوې خُلې

چې ښاسته ګلاب مستي کړي زړه کښې وايم
کاش چې ښکل ئې کړم منصوره په دې خُلې خُلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "لږ شانتې صبر اوکړه"

نن تور کارغه چې د بلئ د پاسه کان کان کول
نن چې سترګي مې خوږ لے د درشل د پاسه
ساته ښځه پته وه جانانه چې به ته را درومې
ما خو نه سر دے ګومنځ کړے نه مې لاس وینځلي
زه خو لا هاغسې د بوال باندې ځوړیا کې تېم
خوږه جانانه د وفا په خاطر صبر اوکړه !!
ته ورشه کښېنه د چنار لاندې شپېلۍ غږ وه
زه به جامې اووینځم ځان له به ګمځې اوکړمه
ته په شپېلۍ کښې غږ وه مې د ښائست سندرې

زه به غوږیان پېټې ته بوځمه ګیا به اوکړم
ته را پسې روستو چو که په لاس را منډې وهه
په شنو وابنو کښې به اوده شو غوان به موږ اوتړو
ته به شپېلۍ غږوې زه به دې ستا نو تېپو کښې
خو
لږ شانتې صبر اوکړه دا سوپیاکې بره کېږدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيڅ پوهه نهٔ شوم خوار نصيب دې راله څله راکړو
خوار خودي کړم ذهن اديب دې راله څله راکړو

چې دې مئين کړم ستا مننه خو تپوس کنوٌ مه
په محبت کښې دا رقيب دې راله څله راکړو
بېګا د مونځ نه پس يو خان دُعا کښې داسې وويې
شاهي وطن کښې دا غريب دې راله څله راکړو
هم مې ارمان قتلوي هم مې پرهر ونه چيړي
قاتل جانان، هوښيار طبيب دې راله څله راکړو
دلته شراب او څښم کهٔ واورم د خطيب خبرې
خدايا يو ځائې شراب خطيب دې راله څله راکړو

مُلام کړي ناسته د رقيبو په تولي کښې ربه
منصور حيران يمه حبيب دې راله څله راکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کهٔ ستا خوښ نهٔ یم ستا د غم خوښ یمه
بغیرلتا د ټول عالم خوښ یمه

ستا په سر هر چاله بښېګړه کوم
ځکه خو زهٔ دې د ټول چم خوښ یم

مانه بغیر په چا ستم نهٔ کوې
خو زهٔ ئې هم په دې ستم خوښ یمه

قسم دې کړې مانه نهٔ جارو ځې
غربته زهٔ دې جوړې سم خوښ یمه

چې د رقیب په سر څهٔ وېلې نهٔ شم
منصوره ځکه د صنم خوښ یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قتل ئې کړم خو قاتلانې نهٔ شوې
سترګې په خپلو کړو پښېمانې نهٔ شوې

چې د هغهٔ نه مې ځان او نغاړلو
ښپې برغنډو په رواني نهٔ شوې
زړهٔ مې بوډا شهٔ نظر کار پرېښودهٔ
مړاوې د ښکلي اداګانې نهٔ شوې
ما هر قدم ستا د قدم پښان کړو
افسوس دے تهٔ زما پښانې نهٔ شوې
ژندګي څهٔ کوې ځوانې ختمه شوه
ختمې دې یاره سزاګانې نهٔ شوې

منصوره هسې دې ځان روباسلو
د محبت لارې روښانې نهٔ شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بنــکي مې په مخ باندې را ماتې شوې
ته چې د وفا لاره کښې پاتې شوې

اوس به د مُلا د نخوانه پاســمه
بيا د محبت سندرې زياتې شوې

ما چې مېـکښي خاورې په سرنوستې وې
نن هغه کوڅې زمانه پاتې شوې

نه په ځلا کېدلو نخو مجبوره شو
اوبنکي چې اشناته ننواتې شوې

کړي منصور خبرې د رقيب د چم
ځکه يې حوصلې د زړه ميراتې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ ګنهګار یم ما ګناه کړې ده
چې مې ګل رنګ سره وفا کړې ده

زهٔ د هر چا په غم شلګی وهمه
هر چا زما په غم خندا کړې ده

ما ته یې خبرې د ځوانۍ مرګ کړې دي
ما ورته تېول عمر دُعا کړې ده

اوس راله سر باندې لاسونه راښکي
چا چې زموږ د سر سودا کړې ده

څنګه په دار یې خېژوي او کنه
منصور خو هاغه ګناه بیا کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړګی مې نهٔ شکي د بیاره اوس په دې کلي کښې
زړګی به ځهٔ او شکي نشته دے زړګی کلي کښې

چې ستا د ښار په دروازو باندې نه شومه
ما نه شو پاتې هغه شور هغه منګي کلي کښې
یاره ته سلام نه پس د بیاره درسې ووایه چې
بغیر لستا نه ایسار بینې نه سپرلے کلي کښې
ستا انتظار باندې به ژوند ستا په کوڅه کښې تېر کړم
زمانه نهٔ دے پاتې هیڅ پوله پټې کلي کښې
صبا په لوټ سفر روان یم مروره یاره
او ګنه دا مې اخېري ماښیګرے کلي کښې

زما یقین دے ځکه نهٔ راځم منصوره یاره
د یار غمونه به مې زړ کړي لیونے کلي کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د سرو شونډو ارمان به مې پاګل کړي
ډېره زر ده چې نادان به مې پاګل کړي

څکه نهٔ د رحم اشنا زما يقين دے
ستا د کلي ماشومان به مې پاګل کړي

زهٔ بے څښکه پوهوم نهٔ پوهېږي
دا ساده باده جانان به مې پاګل کړي

لږ په دهٔ باندې هم روڅښنه چې نشه شي
ساقي جانه مُلاجان به مې پاګل کړي

څهٔ پاګل زړګي پاګل کړمه منصوره
څهٔ چې مخې د جهان به مې پاګل کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ شاعریم د ښائستونو طلب ګار یم
د سپرلي او سرو ګلونو طلب ګار یم

زهٔ په ځوانۍ د ل کړم د وخت ژړندې
خوزهٔ اوس هم د جامونو طلب ګار یم
د رقیب سره جنګونه مې یاد ښې
ستا د مینې د جنګونو طلب ګار یم
چې مدام را سره ستا په ځائے یو ځائے وي
ستا د یاد ستا د غمونو طلب ګار یم
تورو زلفو دې ژوندون راله ایرې کړو
ستا د شونډو د سرونو طلب ګار یم
ما او تا چې پښتني یو وو که هغه وي
زهٔ په وینه د نخوبونو طلب ګار یم

پروا مهٔ کوه رقیبه یو ځل نهٔ دے
زهٔ منصور یم د دارونو طلب ګار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکه ماشوم چې بناریه کښې ورک شي
دا سې مې زړه ستانندا ره کښې ورک شي

چې د ګل مخې مخ ښته او ګور مه
زما درد ونه په سینه کښې ورک شي
چې ستا د زلفو په ځنګل کښې ورک شم
سکه مبلمه چې توره شپه کښې ورک شي
موږ ه چې او ښنو ا یسله خود کښې راشو
زاهد چې او ښني میخانه کښې ورکشي
بیا ورسره تاله وفانه ځ بنائي
زما رقیب چې ستا کوڅه کښې ورک شي
د نوي دور د یار به ځه اوواېم
راحت کښې راشي په غوږمه کښې ورکشي

د منصور یار به څو په زړه کښې وي ستا
ځلې چې زور شي مقبره کښې ورک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورک نهٔ شي

ګل د دواړو سترګو تور که چې ورک نهٔ شي
یا ئې ګل غوندې سمسور که چې ورک نهٔ شي

په صحرا باندې روان ئې د یار غم دی
یا سندره که یا شور که چې ورک نهٔ شي

وه ربباره دا زما داشنا کور دے
ورته دوه سترګې څلور که چې ورک نهٔ شي

زړهٔ وي خبر کهٔ هر څهٔ ورک شول پروا نشته
د یار غم په اوبو سور که چې ورک نشي

چې دې د سپینې مینې تور وانخلي
زړهٔ به مې ستا په زړهٔ کښې کور وانخلي

پیام کوه ستر کو له زور مهٔ ورکوه
د زړهٔ د دنیا مې چرته زور وانخلي

ددهٔ په مړ وجود به څهٔ تېر بڼ يې
چې يُې قدم په څوا د ګور وانخلي

د لسته به څنګ غریب په خېټه موړ شي
چا نه روټۍ چې قرض پور وانخلي

د نوې دور بنګلې به خېل دې کړې څو
ستا په سر هیڅرې به تور وانخلي

بیا څو منصور نهٔ دے دروغ به وائي
ګل نه چې بیا مینې خُله په زور وانخلي

په کومه خُله به ځان ته وائي منصور
چې ستا په مینه کښې پېغور وانخلي

د یار سپینه خُله منه ده
زما مینه هم رښته ده

د بوسې سوال مې ترې اوکړو
یا غږ نهٔ کړې یا کنځه ده

ما به غرق ما به تباه کړې
چې عادت په چیچنه ده

یو مابڼ ته ختې نهٔ شي
بل دې یو یو سړ پښه ده

ستا د زلفو د باد وړاندې
د منصور مینه بښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړهٔ په کور کښې يار ساتم خو لېونے نهٔ ساتم
صفا ئې ووېستل چې نور په زړهٔ کښې دے نهٔ ساتم

بغير د ياره چې په ما باندې د ځانه ګران دے
رقيبه زهٔ د زړهٔ په کور کښې بل سړے نهٔ ساتم

د جانان کړوتو کړوتو بربتو سره او نهٔ نخلي
د دې د يرې نه په پوزه مچکے نهٔ ساتم

تا سره مينه کوم مينه درنه غواړم ګله
د زړهٔ په دشته کښې د بغض بُڼغلے نهٔ ساتم

ما د منصور نه چل زده کړے دے غرور نهٔ کوم
تندے مې روڼ وي چا ته وران ويجاړ تندے نهٔ ساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تهٔ زما په نوم شرمېږې زهٔ خوستا په نوم بدنام یم
د اسې هېر به دې کړم کله، څنګه تا ته چې ګمنام یم

زما ځان کښې د ذرهٔ سره دا عادت چې شانه خوښ دے
چې د ښکلو صفت کېږي ورته ناست په احترام یم

ساقي نیست دې راته خراب دے کهٔ او بو کښې نشه نشته
څنګ چې ومه په یو ځاځکې ساقي هاغسې په جام یم

ستا د مینې پر مخ تګ دے په مزه سره روان یم
هر قدم تېکرې خورمه، غور ځېدلے ګام په ګام یم

نهٔ منصور خفه کوُمه نهٔ جانان نه صبر بسے شم
سحر تا ته په سجده یم د اشنا چم کښې مابنام یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي مانه نهٔ هېرېږي لا تر اوسه
په زړګي مي راوربېږي لا تر اوسه

ځواني ختمه پټ پټو نهے ختم نهٔ شو
زما يار مانه پټېږي لا تر اوسه

پوره کال تر منځه تېر شو ځلا نهٔ شو
خوا کښي غلے مي تېرېږي لا تر اوسه

محبت کښي د وصال پښتنه مهٔ کړه
ارمانونه مي قتلېږي لا تر اوسه

يم حېران چي منصور روغ دے که پاګل دے
بې وفا پسي ژړېږي لا تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دړد چې دچا ګوګل ته ونه رسي
هغه به ستا وربل ته ونه رسي

چې خپلې پښې ځان پسې خپله راښکي
چرې به خپل منزل ته ونه رسي
رووايه ماله به خوب ځنګله راشي
سرچې مې ستا څنګل ته ونه رسي
هغه به څه سروي کم عقله ياره
چې ستا په نوم مقتل ته ونه رسي
شرط پرې کېږد و رشنا زما غزل چې
ستا دې خلې کنځل ته ونه رسي

مر به شي ستا د محبت نکات چې
ستا لېونې اجمل ته ونه رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان به خپله د ایرو غونډې ایرې کړې
وه زړګیه چې د ښکلو تذکرې کړې

په آسمان باندې وریځې راخورې شوې
که حسین په سپین جبین زلفې خورې کړې

ځکه اوس د غنم رنګو خوا کښې ګرځم
د جهان ښکلو رښتې راسره پرې کړې

چې په ښکلو پسې ګرځي ښکلي غواړي
لیونیه مابه زر، ذرې، ذرې کړې

مُلا وصیل شابه دا بل منصور په دار کړې
چې جماعت کښې مې صنم، صنم نعرې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "هاغه زوړ اشنا دي یم"

څنګه روس مې پېژني
ښه پـه غور راوګوره

هغه زوړ اشنا دي یم
موږ چې پټ پټو ښے کړو

تانه چې ورک شوے وم
مانه چې ورک شوے وې

روس دې خیال کښې راغلمه
ستا جوړې یادېږي نه

هاغه د روژو مابنام!
موږ چې الله هو به وې
بره د حجرې په ګټ
موږ دواړه چې ناست به وو

څنګه روس څه پوهـ شوې
روس درته درياد شومه

پاسه را ترغاړه شه
وه مانه روک شوي یه

هاغه زوړ اشنا دي یم
هاغه زوړ اشنا دي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قابل

چې د چا زړهٔ ورته زړګې نهٔ ښکاري
هغه سړے د سوز په و قابل دے

چې هر يو ښکلي پسې ځي، ځې کيږي
زما زړګے د سوز په و قابل دے

# اناالحق

يو ويشتمه که يې که هم اناالحق ووي
په قسم چې به يې جت خلق په دار کړي

منصور هاغه منصور نهٔ دے لېونيه
چې بے ستا غوندې کښې جت خلق په دار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلیا شوم نهٔ کړم سنګ، مني روکنه
ماپه خپل ځان پټنګ، مني روکنه

بغیر له تانه څنګه وه جانانه
د زړهٔ محفل مې رنګ مني روکنه
چې ستا کوڅه پرې ګل وریته شوله
زما د وینې رنګ، مني اوکنه
ماپه د هلي هم باچائي کړې ده
زما د توري شرنګ مني وکنه
چې راګوزار شوم یار خندا کړې وې
څنګه دستګو جنګ مني اوکهٔ نه
چې پښتو کس مولا رکښې څنګ پرېښودهٔ
زمونږ پښتو او ننګ مني اوکهٔ نه

دا خو مني چې زهٔ منصور ملنګ یم
په ځان زما قلنګ مني اوکه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وطن په نوم

وطنه ستا د ننګو غرونو نه زاری
ستا د صحرا ستا ځنګلونو نه زارم
ستا د وګړو سپینو زړونو زارم
ستا د زلمو د همتونو نه زارم
له تا لوګے له تا قربان وطنه
په ما د هر وطن نه ګران وطنه

زه ستا په خاوره زېږېدلے یمه
زه ستا په خاوره لوبېدلے یمه
ستا په نوم هر چا پېژندلے یمه
تا په قدم کښلے یمه
وطنه
مونږ یو په تا باندې ودان
سمسور دې ستا وي ګلستان وطنه

زه ستا صحرا په لندن نه ورکوم
خیبر په ملک د دښمن نه ورکوم
زه ستا کوڅه په ګلشن نه ورکوم
پښتو د بل په وطن نه ورکوم
رسوم بېرغ دې تر اسمان وطنه
روچت دې ستا وي مدام شان وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا هره لاره امریکه دد ماته
د جنت لار خو ستا کوخه ده ماته
چې هره ژبه دې خوږه ده ماته
د رقیب ځکه ستر که سره ده ماته

سنده او بلوچه، پنجاب افغان وطنه
ماته دې ټول رونه یو شان وطنه

که ستا تور غر دے که بولان دے
که تاتره که کوهستان دے
که ستا شند ورکه ستا یولان دے
ماته خو ټول یو پاکستان دے

لتا لوګے به کرم ځیل ځان وطنه
اے د اقبال خوشحال رحمٰن وطنه

ستا په نوم هر ځائے کښې مسرور یم
تا ته معلوم یمه مامتور یم
په تا باسلمه سر منصور یم
ټوله نړۍ کښې مشهور یم

زما خو دغه دے ارمان وطنه
چې دې ناویښ کړمه ځوانان وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله باندې خپل کور کړلو وران زما زړګي
پیدا نهٔ کړو دیار زړهٔ کښې مکان زما زړګي

ملګرو په خوبونو، په خیالونو کښې مُدام
ښکل کړې د جهان واړه خوبان زما زړګي
دیدن له دې اشنا په ویرانو ګوره ډېره دے
پرېښودے ستاد یاره ګلستان زما زړګي
زما دا ښتنه ساده باده مینه ملګرو
لاهو کړه په ښاڅتو د ټول جهان زما زړګي
زما اشنا نادان دے په یوهٔ باندې پوهېږي
بیلے دے ښتے په خپل ډېران زما زړګي

زما منصور زړګي د دار رسئ په شونډو ښکل کړې
بیلا ت کړے د عشق په کوم میدان زما زړګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فطرت د ښائستونو طلبګار یم
د سپرلي او سرو ګلونو طلبګار یم

زه په ځوانه ځوانۍ دلګیرم د وخت ژړنۍ
خو زه بیا هم د جامونو طلبګار یم
تورو زلفو دې ژوندون ماله ایرې کړو
ستا د شونډو د سرونو طلبګار یم
د رقیب سره جنګونه مې یادیږي
ستا د مینې د جنګونو طلبګار یم
ما او تا چې پکښې یو وو که هغه وي
زه په ویخه د خوبونو طلبګار یم
چې مدام ماسره ستا په ځاے یو ځای وي
ستا د یاد ستا د غمونو طلبګار یم

پروا مه کوه رقیبه یو ځل نه دے
زه منصور یم د دارونو طلبګار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د وحشت په تورو شپو کښې سحر اوونه لید و
یار مې د کلي په کوڅو کښې سحر اوونه لید و!

دیار د هجر په دیوه باندې مې ځان اوسېځه
لکه پتنګ مې سرو لمبو کښې سحر اوونه لید و.
ماته د ژوند د ښکلا څه پته ده څه ته وايې
ما د زندان تورو تیږو کښې سحر اوونه لید و
په سپین رخسار باندې یې زلفې لکه شپې خورې دي
نن مې دیار په رنګو کښې سحر اوونه لید و
بېګاه مې خوب کښې د رقیب ګرېوان تار تار کړو ګله
چا په ریښو ریښو جامو کښې سحر اوونه لید و
مونږه تېکړې د ژوندون په هر ډګر اوخوړې
مونږه په دې سېیرو تندو کښې سحر اوونه لید و

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وصيّت منصور

ږچې کله مړ شم زه
نو ما په خاورو ښخ کړئ
که سوزوئ مې کله
مهرباني اوکړئ دا
زما د تن نه زما زړګے راوباسئ
که بيا سوزېږمه زه
خير دے پروا نشته دے
راوباسئ زړه مې څکه
زما خوږو ملګرو
چرته هغه اونه سوي
چې مې په زړه کښې اوسي

دا وصيت دے زما
دا وصيت دے زما

يادګيرنه: دا پورته آزاد نظم ما د اردو ژبې د يو نظم په خيال کښې ليکلے دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سندره

---

خلق ورپسې تلي په اوښ به یې سوره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سنبال کړے دے

روس به مېلمنه راوړي زه د پر خوشحالېږمه
زه د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځایږمه
مخکښې به جنجیان وي اوښ به روستو کجاوه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

کله مېلمنه چې زمونږ کښېنوي پالنګ کښې
ناستې سهیلې به ورسره وي ټنګ په ټنګ کښې
څوک به ورله توره چاے، څوک به ورله شنه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

وائې د توپچي منصور ناوې خفه کېږمه
روس به د پر عالم راشي غلې شه ژړېږمه
تاله به کوسی او مېږ ماله به سهره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل منصور

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**